**د ارزاقو امارتي شرکت پرمختګونه او د راتلونکي لپاره نوي هیلې؛**

ارزاقو امارتي شرکت د مخکنیو کلونو په څېر؛ تېر کال هم د پام وړ لاسته راوړنې او ښې پایلې درلودې.

دغه شرکت د خپل مزل په اوږدو کې د پراخو پرمختګونو شاهد ؤ او خپل مسوولیتونه یې په بریالیتوب سره ترسره کړې دي.

سږ کال هم د ارزاقو امارتي شرکت په پام کې لري، چې خپلو بنسټیزو چارو او خدمتونو ته نوي پرمختګونه او پراختیاوې ورکړي، ترڅو د فعالیتونو لړۍ تر نورو ادارو پورې وغځوي او ورسوي.

ارزاقو امارتي شرکت د خپلو چارو په ترسره کولو کې بریالی او ګړندۍ اداره پاتې شوې ده، چې د بریالیتوب او چټکتیا لاملونه یې د غوره چوپړتیاوو وړاندې کول دي، چې له دې ډلې دولتي او خصوصي ادارو ته په وخت، لوړ کیفیت او په ارزانه توګه د خوراکي توکو د لېږد او برابرولو پروسه یادولی شو.

دغه شرکت نه یوازې په هېواد کې د ګڼو دولتي او خصوصي ادارو لپاره د خپلو فعالیتونو او خدمتونو د پراخولو نیت لري؛ بلکې غواړي چې د نوښت، چټک پرمختګ او باوري چوپړتیاوو له لارې د خپلو پیرودونکو رضایت ترلاسه او هم هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر کړي.

**ارزاقو امارتي شرکت؛ ولس یې منلی خدمت!**